## دافغانستان اسلامی جمهوریت

## دعدلیی وزارت

# رسمی جریده

- دمالی چارو او عامه لګښتونو د اداره کولو دقانون د دویمی مادی د اووم جزء تعدیل
- د امنیتی تصدی اساسنامه

- تعدیل جزء هفتم ماده دوم قانون اداره امور مالی ومصارف عامه
- اساسنامه تصدی امنیتی

دخپریدو نیټه د ۱۳۹۰ هـ.ش کال دلیندی دمیاشتی (۹) پرله پسی نمبر (۱۰۶۵)

تاریخ نشر : (۹) قوس سال ۱۳۹۰ هـ. ش نمبرمسلسل (۱۰۶۵)

**در این شماره :**

**۱. تعدیل جزءهفتم ماده دوم قانون اداره امور مالی ومصارف عامه منتشره جریده رســمی شــماره (۸۵٦) سال ۱۳۸۴ ، صفحه (۱)**

**۲. اساسنامه تصدی امنیتی از صفحه (۲- ۳۰)**

**د امتیاز خاوند : دعدلیی وزارت**

مسؤل چلوونکی : قانونمل محمدرحیم "دقیق"

**۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷**

**ددفتر تیلفون : ۲۱۰۳۳۷۵**

**مرستیال : نور علم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸**

**مهتمم: محمدجان ۰۷۰۰۳۹۵۲۹۲**

**ویب سایت :** www.moj.gov.af

**قیمت این شماره : ......................................(۳۰) افغانی**

**تیراژ چاپ اول :..........................................(۳۰۰۰)جلد**

**آدرس :وزارت عدلیه ، ریاست نشرات ، چهارراهی پشتونستان ، کابل**

## د مالي چارو او عامه لګښتونو د اداره کولو د قانون د دوه يمې مادې د اووم جزء د تعديل په هکله، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان

ګڼه: (٧٦)

نېټه: ۳۰/ ۸/ ۱۳۹۰

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د (٦۴) مادې او د سلمې مادې د (١٦) فقرې د حکم له مخې، د مالي چارو او عامه لګښتونو د اداره کولو د قانون د دوه يمې مادې د اووم جزء تعديل چې د ملي شوري د ولسي جرګې د ۲۵/ ۷/ ۱۳۹۰ نېټې (۱۱) ګڼې او د مشرانو جرګې د ۸/ ۸/ ۱۳۹۰ نېټې (۱۴) ګڼې مصوبو پر بنسټ تصويب شوی، توشېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او د تعديل او د ملي شوري له مصوبو سره يو ځای دې په رسمي جريده کې خپور شي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس**

## فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد تعديل جزء هفتم مادۀ دوم قانون ادارۀ امور مالی و مصارف عامه

شماره: (٧٦)

تاريخ: ۳۰/ ۸/ ۱۳۹۰

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم فقرۀ (١٦) مادۀ (٦۴) و مادۀ صدم قانون اساسی افغانستان تعديل جزء هفتم مادۀ دوم قانون ادارۀ امور مالی و مصارف عامه را که به اساس مصوبات شماره (۱۱) مؤرخ ۱۳۹۰/۷/۲۵ ولسی جرگه و شمارۀ (۱۴) مؤرخ ۱۳۹۰/۸/۸ مشرانو جرگه شورای ملی تصويب گرديده، توشيح می دارم.

**مادۀ دوم:**

اين فرمان از تاريخ توشيح نافذ و همراه با تعديل و مصوبات شورای ملی در جريدۀ رسمی نشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

د افغانستان اسلامي جمهوريت

ملي شوري

ولسي جرګه

د مالي چارو او عامه لګښتونو د اداره کولو د قانون د دوه يمې مادې د اووم جزء د تعديل د طرحې مصوبه

ګڼه: (۱۱)

نېټه: ۲۵/ ۷/ ۱۳۹۰

د افغانستان د اساسي قانون د اووه نوي يمې مادې د حکم له مخې، ولسي جرګې د ۱۳۹۰ کال د تلې د مياشتې د (۲۵) نېټې د دوشنبې ورځې په عمومي غونډه کې، د مالي چارو او عامه لګښتونو د اداره کولو د قانون د دوه يمې مادې د اووم جزء د تعديل طرح، په دوو مادو کې تصويب کړه.

الحاج عبدالرؤف"ابراهيمي"

د ولسي جرګې رئيس

جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

ولسی جرگه

مصوبۀ طرح تعديل جزء هفتم مادۀ دوم قانون ادارۀ امور مالی و مصارف عامه

شماره: (۱۱)

تاريخ: ۲۵/ ۷/ ۱۳۹۰

به تأسی از حکم مادۀ نود وهفتم قانون اساسی افغانستان، در جلسۀ عمومی روز دوشنبه مؤرخ ۲۵ ماه ميزان سال ۱۳۹۰ ولسی جرگه طرح تعديل جزء هفتم مادۀ دوم قانون ادارۀ امور مالی و مصارف عامه، به داخل دو ماده به تصويب رسيد.

الحاج عبدالرؤف "ابراهيمی"

رئيس ولسی جرگه

## د افغانستان اسلامي جمهوريت
## ملي شوري
## مشرانو جرگه
## د مالي چارو او عامه لگښتونو د اداره کولو د قانون د دوه يمې مادې د اووم جزء د تعديل په هکله، د مشرانو جرگې مصوبه

گڼه: (۱۴)
نېټه: ۸/ ۸/ ۱۳۹۰

مشرانو جرگې د افغانستان د اساسي قانون د نوي يمې مادې له حکم سره سم، د ۱۳۹۰ کال د لړم د مياشتې د اتمې نېټې په عمومي غونډه کې د مالي چارو او عامه لگښتونو د اداره کولو د قانون د دوه يمې مادې د اووم جزء د تعديل طرح د رايو په اکثريت تصويب کړه.

محمد علم "ايزديار"
د مشرانو جرگې لومړی نايب

## جمهوری اسلامی افغانستان
## شورای ملی
## مشرانو جرگه
## مصوبۀ مشرانو جرگه در مورد تعديل جزء هفتم مادۀ دوم قانون ادارۀ امور مالی و مصارف عامه

شماره: (۱۴)
تاريخ: ۸/ ۸/ ۱۳۹۰

به تأسی از حکم مادۀ نودم قانون اساسی افغانستان، تعديل جزء هفتم مادۀ دوم قانون ادارۀ امور مالی و مصارف عامه درجلسۀ عمومی مؤرخ هشتم ماه عقرب سال ۱۳۹۰ مشرانو جرگه به اکثريت آراء تصويب گرديد.

محمد علم "ايزديار"
نايب اول مشرانو جرگه

## د ۱۳۸۴ کال په (۸۵٦) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوي د مالي چارو او عامه لګښتونو د اداره کولو د قانون د دوه يمې مادې د اووم جزء تعديل

**اصطلاحګانې**

**دوه يمه ماده:**

۷- مالي کال: له هغې مودې څخه عبارت ده چې د هجري شمسي کـال د مرغومي د مياشتې له لومړۍ نېټې څخه پيـل او د راتلونکي کال د ليندۍ د مياشـتې تـر وروستۍ نېټې پورې دوام مومي.

که چېرې د نورو قوانينو له حکمونو څخه کوم حکم لدې حکم سره په مغايرت کې واقع شي، دغه حکم د رعايتولو وړ دی.

**انفاذ**

**دوه يمه ماده:**

دغه تعديل د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې خپور شي.

## تعديل جزء هفتم مادۀ دوم قانون ادارۀ امور مالی ومصارف عامه منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۸۵٦) سال ۱۳۸۴

**اصطلاحات**

**مادۀ دوم:**

۷- سال مالی: عبارت از مدتی اسـت که از اول ماه جـدی سـال هجـری شمسی آغاز و الی اخير ماه قوس سـال بعـدی هجـری شمـسی ادامـه می يابد.

هرگاه حکمی از احکام ساير قوانين با اين حکم درمغايرت واقع گردد اين حکـم قابل رعايت می باشد.

**انفاذ**

**مادۀ دوم:**

اين تعديل از تاريخ توشـيح نافـذ و در جريدۀ رسمی نشر گردد.

**د امنيتي تصدۍ د اساسنامې د انفاذ په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوريت د وزيرانو د شوري مصوبه**

گڼه: (۳۱)

نېټه: ۱۳۹۰/۸/۱۲

د امنيتي تصدۍ اساسنامه چې په (۴) فصلونو او (۵۴) مادو کې د افغانستان اسلامي جمهوريت د وزيرانو شوري لخوا تصويب شوې ده، منظوروم.

دغه اساسنامه د تصويب له نېټې څخه نافذه ده او په رسمي جريده کې دې خپره شي.

حامد کرزی

دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس

**مصوبهٔ شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانستان دربارهٔ انفاذ اساسنامهٔ تصدی امنيتی**

شماره: (۳۱)

تاريخ: ۱۳۹۰/۸/۱۲

اساسنامهٔ تصدی امنيتی را که به داخل (۴) فصل و (۵۴) ماده از طرف شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانستان تصويب گرديده منظور می دارم.

اين اساسنامه از تاريخ تصويب نافذ و در جريدهٔ رسمی نشر گردد.

حامد کرزی

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

# فهرست مندرجات

## اساسنامهٔ تصدی امنیتی

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنیٰ | ۲ |
| مادهٔ دوم: | اهداف | ۲ |
| مادهٔ سوم: | نوع شخصیت | ۳ |
| مادهٔ چهارم: | موقعیت مرکز و نمایندگی | ۳ |
| مادهٔ پنجم: | مسئولیت مالی | ۴ |
| مادهٔ ششم: | عرضهٔ خدمات | ۴ |


## فصل دوم

## امور مالی


| | | |
|---|---|---|
| مادهٔ هفتم: | سرمایه | ۵ |
| مادهٔ هشتم: | حجم سرمایه | ۵ |
| مادهٔ نهم: | طرز ایجاد و استفاده از ذخایر (وجوه مالی) | ٦ |
| مادهٔ دهم: | استفاده از مفاد خالص | ۷ |
| مادهٔ یازدهم: | تمویل سرمایه | ۷ |
| مادهٔ دوازدهم: | تدارکات | ۷ |
| مادهٔ سیزدهم: | اجاره دهی | ۸ |

مادۀ چهاردهم: امور حسابی.................................۸
مادۀ پانزدهم: طرز سنجش سرمایۀ دورانی..................۹
مادۀ شانزدهم: استفاده از سرمایه...........................۹
مادۀ هفدهم: استفاده از ذخایر استهلاک...................۹
مادۀ هجدهم: وضع استهلاک.................................۱۰
مادۀ نزدهم: سال مالی.......................................۱۰
مادۀ بیستم: حساب بانکی...................................۱۰
مادۀ بیست ویکم: معافیت مالیات............................۱۱
مادۀ بیست ودوم: ارائه گزارش...............................۱۱

## فصل سوم

## اداره

مادۀ بیست وسوم: تشکیلات...................................۱۲
مادۀ بیست وچهارم: شورای عالی...............................۱۲
مادۀ بیست وپنجم: وظایف و صلاحیت های شورای عالی............۱۳
مادۀ بیست وششم: جلسات شورای عالی........................۱۵
مادۀ بیست وهفتم: مرجع اجرائیوی تصدی.......................۱٦
مادۀ بیست وهشتم: مسئولیت های رئیس هیئت عامل ...............۱٦
مادۀ بیست ونهم: وظایف و صلاحیت های هیئت عامل.............۱۷
مادۀ سی ام: مسئولیت معاونین و کارکنان.........................۱۹
مادۀ سی ویکم: ترتیب و تصویب پلان...........................۱۹

مادۀ سی ودوم: تطبیق پلان........................................۲۰
مادۀ سی وسوم: مؤثریت بهره برداری...........................۲۱
مادۀ سی وچهارم: سازماندهی تدارکات.........................۲۱
مادۀ سی وپنجم: فروش مواد و جایداد مازاد...................۲۲
مادۀ سی وششم: صرفه جوئی........................................۲۲
مادۀ سی وهفتم: استفاده از سرمایۀ دورانی.....................۲۲
مادۀ سی وهشتم: منع معاملات نقدی...............................۲۳
مادۀ سی ونهم: قرضه گیری..........................................۲۳
مادۀ چهلم: موجودی جایداد ها.....................................۲۴
مادۀ چهل ویکم: ارتقای سطح مهارت ها...........................۲۴
مادۀ چهل ودوم: تدابیر ایمنی.......................................۲۴
مادۀ چهل وسوم: حقوق و امتیازات.................................۲۴
مادۀ چهل وچهارم: استفاده از تجارب مؤسسات مشابه...............۲۵
مادۀ چهل وپنجم: تفتیش سلاح کوت ها............................۲۶
مادۀ چهل وششم: منع استخدام.......................................۲۶

## فصل چهارم

## احکام متفرقه


مادۀ چهل وهفتم: تأدیب.............................................۲۷

مادۀ چهل وهشتم: امور ذاتی کارکنان امنیتی........................۲۷

مادۀ چهل ونهم: یونیفورم کارکنان امنیتی.........................۲۷

مادۀ پنجاهم: استخدام متخصصین...................................۲۸

مادۀ پنجاه ویکم: انحلال قبل از وقت..............................۲۸

مادۀ پنجاه ودوم: افزایش نیروی پولیس............................۲۹

مادۀ پنجاه وسوم: مهر..................................................۳۰

مادۀ پنجاه وچهارم: تاریخ انفاذ......................................۳۰

## د امنيتي تصدۍ اساسنامه

## لومړی فصل

## عمومي حكمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه اساسنامه د دولت د تصديو د قانون په شپږمه ماده كې د درج شوي حكم پربنسټ وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه يمه ماده:**

د امنيتي تصدۍ موخې عبارت دي له:

۱- د امنيتي تصدۍ د فعاليتونو تنظيمول اود خصوصي امنيتي شركتونو پرځای چې د اساسي قانون د (۵ او ۷۵) مادو د حكمونو مغاير تشكيل شوي وو د هغو ځای پرځای كول.

۲- د افغانستان اسلامي جمهوري رياست د ۲٦/ ۵/ ۱۳۸۹ نېټې د (٦۲) گڼې فرمان مطابق د منحل شوو خصوصي امنيتي شركتونو د فعاليتونو ټولو ډولونو ته د پای وركولو تر وخته، د پوليسو، ملي

## اساسنامۀ تصدی امنيتی

## فصل اول

## احكام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

اين اساسنامه به اساس حكم مندرج مادۀ ششم قانون تصدی های دولت وضع گرديده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف تصدی امنيتی عبارت اند از:

۱- تنظيم فعاليت های تصدی امنيتی و جاگزينی آن به جای شركت های خصوصی امنيتی كه مغاير احكام مواد (۵و۷۵) قانون اساسی تشكيل گرديده بود.

۲- همكاری و هماهنگی ميان فعاليت های پوليس ، اردوی ملی و امنيت ملی تا زمان پايان بخشيدن به تمام انواع فعاليت های شركت های امنيتی خصوصی كه مطابق فرمان شماره (٦۲)

اردو او ملي امنيت د فعاليتونو تـــرمنځ همکاري او همغږي.

۳- بـــين المللـــي او د ديپلوماتيـــک خونديتوب لرونکو مؤسسو او سازمانونو او هغو سازمانونو ته چې د دوه اړخيـــزو موافقو پربنسټ دغـــه ډول خونـــديتوب ورکړ شوی وي، په هېواد کې ميشتو د بهرنيو دولتونو سياسي نمايندګيو، کورنيو او بهرنيو بانکونو او هغو پرمختيايي پروژو ته چې د بهرنيو خصوصي هېوادونو لخوا عملي کېږي، د اختصاصي امنيتي خدمتونو برابرول.

## د شخصيت ډول

**درېيمه ماده:**

امنيتي تصدۍ دحکمي شخصيت په لرلو سره دکورنيو چارو وزارت په چوکـــاټ کې تشکيل شوې او اکثـــر حـــد تـــر ۱/ ۱/ ۱۳۹۲ نېټې پورې ددې اساسنامې دحکمونو مطابق فعاليت کوي.

مؤرخ ۱۳۸۹/۵/۲٦ رياست جمهوری اسلامی افغانستان منحل گرديده اند.

۳- فراهم نمـــودن خـــدمات امنيتـــی اختصاصی برای مؤسسات و ســـازمان های بين المللـــی و دارای مـــصئونيت ديپلوماتيک و سازمان های که بر اساس موافقات دو جانبه به آنها چنين مصئونيت داده شده باشد ، نمايندگی های سياسی دول خارجی مقيم کـــشور، بانکهـــای خصوصی داخلی و خارجی و پروژه های انکشافی که توسط کشور های خارجی عملی می گردند.

## نوع شخصيت

**مادۀ سوم:**

تصدی امنيتی بـــا داشـــتن شخـــصيت حکمـــی در چوکـــات وزارت امـــور داخله تشکيل گرديـــده و حـــد اکثـــر تـــا تـــاريخ ۱۳۹۲/۱/۱ مطـــابق احکام اين اساسنامه فعاليت می نمايد.

د مرکز او نمايندګۍ موقعيت

څلورمه ماده:

د امنيتي تصدۍ مرکز د کابل په ښارکې دی او نمايندګۍ يې له اړتيا سره سم په ولايتونوکې رامنځته کېدای شي.

مالي مسئوليت

پنځمه ماده:

امنيتي تصدۍ، د عقد شوو موافقه ليکونو او قراردادونو په اړه د خپلو ژمنو په وړاندې د اړوندې پانګې او نورو شتمنيو په تناسب مسئوله ده.

د خدمتونو وړاندې کول

شپږمه ماده:

(۱) امنيتي تصدۍ امنيتي خدمتونه د اړوندو قوانينو د حکمونو مطابق، ددې اساسنامې د دوه يمې مادې په (۳) جزء کې درج شوو مؤسسو او ادارو ته، د قرارداد د عقد پربنسټ، د ټاکلي حق الخدمت په بدل کې، سرته رسوي.

(۲)دقرارداد اوحق الخدمت شرايط، دجلا کړنلارې مطابق چې دامنيتي تصدۍ دعالي شوري لخوا وضع کېږي، تنظيمېږي.

موقعيت مرکز ونمايندگی

مادۀ چهارم:

مرکز تصدی امنيتی درشهر کابل بوده ونمايندگی های آن حسب ضرورت در ولايات ايجاد شده می تواند.

مسئوليت مالی

مادۀ پنجم:

تصدی امنيتی در مقابل تعهدات خود به ارتباط موافقتنامه ها وقرارداد های عقدشده به تناسب سرمايه و ساير دارائی های مربوط مسئول می باشد.

عرضۀ خدمات

مادۀ ششم:

(۱) تصدی امنيتی خدمات امنيتی را طبق احکام قوانين مربوط برای مؤسسات و ادارات مندرج جزء (۳) مادۀ دوم اين اساسنامه به اساس عقد قرارداد در بدل حق الخدمت معينه انجام می دهد.

(۲) شرايط قرار داد و حق الخدمت طی طرزالعمل جداگانه که از طرف شورای عالی تصدی امنيتی وضع می گردد، تنظيم می شود.

## دوه يم فصل

## مالي چارې

### پانګه

**اوومه ماده:**

(۱) د امنيتي تصدۍ پانګه په دولت پورې اړه لري او له ثابتې او دوراني پانګې څخه جوړه ده چې د کورنيو چارو وزارت په وړانديز، د ماليې وزارت د موافقې او د وزيرانو شورې د تصويب پربنسټ، امنيتي تصدۍ ته ورکول کېږي.

(۲) د امنيتي تصدۍ په دوراني پانګه کې تزئيد او تنقيص د کورنيو چارو وزارت په وړانديز، د ماليې وزارت د تأييد او د وزيرانو د شورې د تصويب پربنسټ صورت موندلی شي.

### د پانګې حجم

**اتمه ماده:**

(۱) د تصدۍ ثابته پانګه (۹۱۷، ۲۱۵، ۷۲۹، ۱) افغانۍ او دوراني پانګه يې (۵۰۰،۰۰۰،۰۰۰) افغانۍ ده.

(۲) امنيتي تصدۍ مکلفه ده، هغه لګښتونه

## فصل دوم

## امور مالی

### سرمايه

**مادۀ هفتم:**

(۱) سرمايۀ تصدی امنيتی متعلق به دولت بوده ومتشکل از سرمايۀ ثابت و دورانی می باشد که به اساس پيشنهاد وزارت امور داخله، موافقۀ وزارت ماليه وتصويب شورای وزيران به تصدی امنيتی داده می شود.

(۲) تزئيد وتنقيص درسرمايۀ دورانی تصدی امنيتی به اساس پيشنهاد وزارت امور داخله، تأييد وزارت ماليه وتصويب شورای وزيران صورت گرفته می تواند.

### حجم سرمايه

**مادۀ هشتم:**

(۱) سرمايۀ ثابت تصدی مبلغ (۹۱۷، ۲۱۵، ۷۲۹، ۱)افغانی و سرمايۀ دورانی آن مبلغ (۰۰۰، ۰۰۰، ۵۰۰) افغانی می باشد.

(۲) تصدی امنيتی مکلف است

چې د خدمتونو د سرته رسولو په غرض يې ترسره کوي، جبران کړي او لدې بابته ترلاسه شوې ګټه، د وړانــدې شــوي خدمت د تمامې شوې بيې له لس ســلنې څخه لږ نه وي.

## د زېرمو (مالي وجوهو) د رامنځتــه کېدو او ګټې اخيستنې ډول

نهمه ماده:

(۱) امنيتي تصدۍ د خپلو خــدمتونو د وړاندې کولو د پرمختيا او د کارکوونکو د هڅولو او د غير مترقبــه زيــانونو د جبرانولو په منظور د کلنۍ خالصې ګټې له مجموع څخه لاندې زېرمې (مالي وجوه) اختصاصوي:

۱- تر پنځلس سلنې پــورې د هڅــونې زېرمه (وجوه).

۲- پنځه سلنه پراختيايي زېرمه (وجوه).

۳- درې سلنه ټولنيزه او فرهنګي زېرمه (وجوه).

۴- دوه سلنه احتياطي زېرمه (وجوه).

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو زېرمو (مالي وجوهو) درامنځته کېدو

مصارفی راکه غرض انجام خدمات بــه عمـــل مـــی آورد، جبـــران نمـــوده و مفاد حاصله از این بابت کمتر از ده فیصد قیمت تمام شد خدمت عرضه شده نباشد.

## طرزایجاد واستفاده ازذخایر(وجوه مالی)

مادهٔ نهم:

(۱) تصدی امنیتی به منظور انکـــشاف عرضهٔ خدمات و تـــشویق کارکنـــان و جبران ضررهای غیر مترقبهٔ خـــویش از مجموع مفاد خالص ســـالانه، ذخـــایر (وجـــوه مـــالی) ذیـــل را اختـــصاص می دهد:

۱- ذخیرهٔ (وجوه) تـــشویقی پـــانزده فیصد.

۲- ذخیرهٔ (وجوه )توسعوی پنج فیصد.

۳- ذخیرهٔ (وجوه )اجتماعی و فرهنگی سه فیصد.

۴- ذخیرهٔ (وجوه )احتیاطی دو فیصد.

(۲) طرزایجاد ذخایر (وجـــوه مـــالی) مندرج فقرهٔ (۱) این مـــاده و طریـــق

ډول او له هغو څخه د ګټې اخيستنې لاره داړوند تقنيني سند مطابق، صورت مومي.

## له خالصې ګټې څخه ګټه اخيستنه

لسمه ماده:

امنيتي تصدۍ کولای شي د ماليې وزارت په موافقې له کلنۍ پاتې شوې خالصې ګټې څخه تر پنځوس سلنې پورې، د دوراني پانګې د بشپړولو يا زياتولو، د پرمختيائي منظور شوي پلان د تمويلولو او د بانکي پور د بيا ورکړې په غرض ترګټې لاندې ونيسي او پاتې ګټه د دولت د عوايدو حساب ته ولېږدوي.

## د پانګې تمويلول

يوولسمه ماده:

امنيتي تصدي خپله پانګه اچونه د خپلو کورنيو سرچينو، د دولت د پرمختيايي بودجې او بانکي پورونو له مدرکه د منظور شوې پلان مطابق تمويلوي.

## تدارکات

دوولسمه ماده:

(۱) د امنيتي تصدۍ د اړتيا وړ د اجناسو، خدمتونو او ساختماني چارو تدارک د

استفاده از آن طبق سند تقنينی مربوط، صورت می گيرد.

## استفاده ازمفاد خالص

مادۀ دهم:

تصدی امنيتی می تواند به موافقۀ وزارت ماليه الی پنجاه فيصد مفاد خالص باقيماندۀ سالانه را غرض اکمال يا تزئيد سرمايۀ دورانی ، تمويل پلان منظور شدۀ انکشافی و بازپرداخت قرضۀ بانکی مورد استفاده قرارد هد و مفاد باقيمانده را به حساب عوايد دولت انتقال دهد.

## تمويل سرمايه

مادۀ يازدهم:

تصدی امنيتی سرمايه گذاری خود را از مدرک منابع داخلی خود، بودجۀ انکشافی دولت و قروض بانکی مطابق پلان منظور شده تمويل می کند.

## تدارکات

مادۀ دوازدهم:

(۱) تدارک اجناس، خدمات واموړساختمانی مورد ضرورت تصدی

هغې د فعاليت د پلان مطابق، د موادو د زېرمو د منظورو شوو نورمونو له په پام کې نيولو سره، د تدارکاتو د قانون د حکمونو مطابق صورت مومي.

(۲) امنيتي تصدۍ کولای شي، په استثنائي حالت کې، د تصدۍ د عالي شورئ په تشخيص، خپل د اړتيا وړ اضافي زېرمې، تر يوه کال پورې د بانکي پورونو له مدرکه تأمين کړي.

## اجاره ورکونه

### ديارلسمه ماده:

امنيتي تصدي کولای شي توليدي دستگاوې او شاپونه، تحويلخانې، تأسيسات، تعميرونه، تجهيزات او ترانسپورتي وسايط چې په واک کې يې لري او موقتاً له هغوڅخه ګټه نه اخيستل کېږي، د ورځني نرخ مطابق، نورو تصديو، مؤسسو او انفرادي اشخاصو ته په اجاره ورکړي.

امنيتی مطابق به پلان فعاليت آن با نظر داشت نورم های منظور شدهٔ ذخاير مواد، طبق احکام قانون تدارکات صورت می گيرد.

(۲) تصدی امنيتی می تواند در حالت استثنائی به تشخيص شورای عالی تصدی، ذخاير اضافی مورد ضرورت خود را الی يکسال از مدرک قروض بانکی تأمين نمايد.

## اجاره دهی

### مادهٔ سيزدهم:

تصدی امنيتی می تواند دستگاه ها و شاپ های توليدی، تحويلخانه ها، تأسيسات، تعميرات، تجهيزات و وسايط ترانسپورتی را که در اختيار دارد و مؤقتاً از آن ها استفاده صورت نمی گيرد، مطابق نرخ روز به ساير تصدی ها، مؤسسات و اشخاص انفرادی به اجاره دهد.

**حسابي چارې**

**څوارلسمه ماده:**

د امنيتي تصدۍ حسابي چارې د ستندرد نمونوي حسابي پلان او منظــور شــوو حسابي فورمو مطابق، د مــاليې وزارت لخوا اجراء کېږي.

**د دوراني پانګې د سنجولو ډول**

**پنځلسمه ماده:**

د امنيتي تصدۍ د دوراني پانګې اندازه د تصديو د دوراني جايدادونو د نــورم د تنظيم د مقررې مطابق، سنجول کېږي.

**له پانګې څخه ګټه اخيستنه**

**شپاړسمه ماده:**

امنيتي تصدۍ مکلفه ده د اقتصادي اړتيا مطابق، دامنيتي خدمتونو د وړاندې کولو د لوړولو، اغېزمنتــوب او دفعاليــت د اقتصادي والي او د اړوندو منــسوبينو د ګټو د تأمينولو په غرض، د امنيتي تصدۍ له پانګې څخه په ګټوره توګه اســتفاده وکړي.

**امورحسابی**

**مادۀ چهاردهم:**

امور حسابی تصدی امنيتی مطابق پلان حسابی نمونوی ستندرد و فورمه هــای حسابی منظورشــده از طــرف وزارت ماليه، اجراء می شود.

**طرزسنجش سرمايۀ دورانی**

**مادۀ پانزدهم :**

اندازۀ سرمايۀ دورانی تــصدی امنيتــی مطابق مقررۀ تنظيم نورم جايداد هــای دورانی تصدی ها سنجش می شود.

**استفاده از سرمايه**

**مادۀ شانزدهم:**

تصدی امنيتی مکلــف اســت مطــابق نيازمنــدی اقتــصادی غــرض بــالا بردن عرضۀ خدمات امنيتی، مؤثريت و اقتــصادی بــودن فعاليــت و تــأمين منافع منــسوبين مربــوط از ســرمايۀ تصدی امنيتی طــور مثمــر اســتفاده نمايد.

## داستهلاک له زېرموڅخه ګټه اخيستنه

**اوولسمه ماده:**

امنيتي تصدۍ د بنسټيزو (منقولو او غير منقولو) جايدادونو د بياجوړونې او ترميمولو په مقصد، د استهلاک د وضع په قانون کې د درج شوو نورمونو مطابق، پلان جوړوي او په ملي اقتصادکې د استهلاک له زېرمې څخه ګټه اخلي، استهلاک وضع او د نوموړي قانون څلورم فصل ته په پام سره د استهلاک له زېرموڅخه ګټه اخلي.

## د استهلاک وضع کول

**اتلسمه ماده:**

امنيتي تصدۍ مکلفه ده په خپلو حسابونو کې د استهلاک د وجوهو په اندازه د بنسټيزو جايدادونو استهلاک چې دهغو د بيا جوړولو په منظور وضع شوی، د امنيتي تصدۍ په پانګه کې منعکس کړي.

## مالي کال

**نولسمه ماده:**

د امنيتي تصدۍ مالي کال، د مالي او عامه لګښتونو د چارو د ادارې په قانون کې

## استفاده از ذخاير استهلاک

**مادۀ هفدهم:**

تصدی امنيتی به مقصد احياء مجدد و ترميم جايداد های اساسی (منقول وغيرمنقول)، مطابق نورم های مندرج قانون وضع استهلاک، پلان گذاری واستفاده از ذخيرۀ استهلاک در اقتصاد ملی، استهلاک وضع و بارعايت فصل چهارم قانون متذکره از ذخاير استهلاک استفاده می نمايد.

## وضع استهلاک

**مادۀ هجدهم:**

تصدی امنيتی مکلف است درحسابات خود استهلاک جايداد های اساسی را به اندازۀ وجوه استهلاک که به منظور احيای مجدد آن وضع شده ، درسرمايۀ تصدی امنيتی منعکس نمايد.

## سال مالی

**مادۀ نزدهم:**

سال مالی تصدی امنيتی سال مالی مندرج قانون اداره امور مالی و مصارف

درج شوی مالي کال دی.

## بانکي حساب

**شلمه ماده:**

امنيتي تصدۍ کولای شي بانکي حساب د قانون د حکمونو مطابق، پرانيزي.

## د مالياتو معافيت

**يوويشتمه ماده:**

امنيتي تصدۍ، د دولت د تصديو د قانون د حکمونو مطابق،له مالياتي معافيت څخه برخمنه کېږي.

## د رپوټ وړاندې کول

**دوه ويشتمه ماده:**

(۱) د امنيتي تصدۍ د خدمتونو د وړاندې کولو، مالي فعاليت رپوټ او کلنۍ بېلانس، د کورنيو چارو او ماليې وزارتونو، د مرکزي احصائيې ادارې او معامله لرونکي بانک ته، په لاندې ډول وړاندې کېږي:

۱- د لومړۍ ربعې رپوټ د هماغهٔ مالي کال د څلورمې مياشتې تر پايه پورې.

۲- د دوه يمې ربعې رپوټ د هماغهٔ مالي کال د اوومې مياشتې تر پايه پورې.

عامه می باشد .

## حساب بانکی

**مادۀ بيستم :**

تصدی امنيتی می تواند حساب بانکی را مطابق احکام قانون افتتاح نمايد.

## معافيت ماليات

**مادۀ بيست ويکم:**

تصدی امنيتی مطابق احکام قانون تصدی های دولت از معافيت مالياتی مستفيد می گردد.

## ارايۀ گزارش

**مادۀ بيست ودوم:**

(۱) گزارش عرضۀ خدمات، فعاليت مالی و بيلانس سالانۀ تصدی امنيتی به وزارت های اموداخله و ماليه، ادارۀ احصائيۀ مرکزی و بانک معامله دار، قرار ذيل ارايه می گردد:

۱- گزارش ربع اول الی اخيرماه چهارم همان سال مالی .

۲- گزارش ربع دوم الی اخيرماه هفتم همان سال مالی.

۳- د دریيمې ربعې رپوټ د هماغهٔ مالي کال د لسمې میاشتې تر پایه پورې.

۴- د څلورمې ربعې رپوټ د راتلونکي مالي کال د لومړۍ میاشتې تر پایه پورې.

۵- دامنيتي تصدۍ کلنی بیلانس د راتلونکي مالي کال د څلورمې میاشتې تر لومړۍ پورې.

(۲) امنيتي تصدۍ د خپلو مالي فعاليتونو رپوټونه او کلنی بیلانس د ملي او بين المللي معيارونو مطابق، برابروي.

## دریيم فصل

## اداره

### تشکیلات

درویشتمه ماده:

امنيتي تصدي د لاندې مراجعو په واسطه اداره کېږي:

۱- د امنيتي تصدۍ عالي شوري.

۲- د امنيتي تصدۍ عامل هیئت (اجرائیوي هیئت).

۳- گزارش ربع سوم الی اخیر برج دهم همان سال مالی.

۴- گزارش ربع چهارم الی اخیرماه اول سال مالی مابعد.

۵- بیلانس سالانهٔ تصدی امنیتی الی اول ماه چهارم سال مالی مابعد.

(۲)تصدی امنیتی گزارش های فعالیت مالی و بیلانس سالانهٔ خود را مطابق معیارهای ملی وبین المللی تهیه می نماید.

## فصل سوم

## اداره

### تشکیلات

مادهٔ بیست وسوم :

تصدی امنیتی توسط مراجع ذیل اداره می شود:

۱- شورای عالی تصدی امنیتی.

۲- هیئت عامل (هیئت اجرائیوی) تصدی امنیتی.

## عالي شوري

**څلېريشتمه ماده:**

د امنيتي تصدۍ عالي شوري، د امنيتي تصدۍ رهبري کوونکې مرجع ده چې په لاندې ترکيب سره د رئيس، مرستيال او د پنځو غړو لرونکې ده:

۱- دکورنيو چارو وزير د رئيس په توګه.

۲- د ماليې وزير د مرستيال په توګه.

۳- د اقتصاد وزير د غړي په توګه.

۴- د کانونو وزير د غړي په توګه.

۵- دانرژۍ او اوبو وزير د غړي په توګه.

٦- د فوايد عامې وزير د غړي په توګه.

۷- د سيمه ييزو ارګانونو د خپلواکې ادارې عمومي رئيس، د غړي په توګه.

## د عالي شوري دندې او واکونه

**پنځه ويشتمه ماده:**

د امنيتي تصدۍ عالي شوري، د لاندې دندو او واکونو لرونکې ده:

۱-دامنيتي تصدۍ دخط مشې (تلن لارې) تثبيت او دکلني کار دپلان تصويبول.

۲- د امنيتي تصدۍ د کلني مالي پلان او

## شورای عالی

**مادۀ بیست وچهارم:**

شورای عالی تصدی امنیتی مرجع رهبری کنندۀ تصدی امنیتی بوده که دارای رئیس، معاون و پنج عضو به ترکیب ذیل می باشد:

۱- وزیر امور داخله بحیث رئیس.

۲- وزیر مالیه به حیث معاون .

۳- وزیر اقتصاد بحیث عضو.

۴- وزیر معادن بحیث عضو.

۵- وزیر انرژی وآب بحیث عضو.

٦- وزیر فواید عامه بحیث عضو.

۷- رئیس عمومی ادارۀ مستقل ارگانهای محلی بحیث عضو.

## وظایف وصلاحیت های شورای عالی

**مادۀ بیست وپنجم:**

شورای عالی تصدی امنیتی دارای وظایف وصلاحیت های ذیل می باشد:

۱- تثبیت خط مشی و تصویب پلان کار سالانۀ تصدی امنیتی.

۲- تصویب پلان مالی و تشکیل سالانۀ

تشكيل تصويبول.

۳- د امنيتي تصدۍ د كورنيو لوايحو او كړنلارو تصويبول.

۴- د وزيرانو عالي شوري ته د عامل هيئت د تقرر او عزل په اړه د وړانديز وړاندې كول.

۵- د عامل هيئت په تركيب باندې قسمي يا كُلي بياكتنه.

٦- د امنيتي تصدۍ د خدمتونو د وړاندې كولو، مالي فعاليت درپوټ او دكلني بېلانس دارزونې او څېړنې، د چارو د ښه والي او د نيمګړتياوو د لرې كولو په هكله د تصميم نيول.

۷- د خدمتونو د وړاندې كولو د ګټورتوب او د كيفيت د لوړولو او د خدماتي، مادي منابعو، بشري او مالي قواوو له ظرفيتونوڅخه د ګټورې ګټې اخيستنې په منظور د تصميم نيول.

۸-دامنيتي خدمتونو دوړاندې كولو د حق الخدمت ټاكل.

۹- د محاسبې او رپوټ وركونې د عمومي قواعدو د مقررې مطابق، د امنيتي تصدۍ د كلني بېلانس تصويبول.

تصدى امنيتى.

۳- تصويب لوايح وطرزالعمل هاى داخلى تصدى امنيتى .

۴- ارايۀ پيشنهاد مبنى بر تقرر و عزل هيئت عامل به شوراى وزيران.

۵- تجديد نظر قسمى يا كلى در تركيب هيئت عامل .

٦- بررسى و ارزيابى گزارش عرضۀ خدمات، فعاليت مالى وبيلانس سالانۀ تصدى امنيتى و اتخاذ تصميم درمورد بهبود امور و رفع نواقص.

۷- اتخاذ تصميم به منظور ارتقاى مفيديت وكيفيت عرضۀ خدمات و استفادۀ مثمر از ظرفيت هاى خدماتى، منابع مادى، قواى بشرى و مالى .

۸- تعيين حق الخدمت عرضۀ خدمات امنيتى.

۹- تصويب بيلانس سالانۀ تصدى امنيتى مطابق مقررۀ قواعد عمومى محاسبه و گزارش دهى.

۱۰- د قانون د حکمونو له په پام کې نيولو سره، د امنيتي تصدۍ د مالي وجوهو له زېرموڅخه د ګټې اخيستنې په هکله، د تصميم نيول.

۱۱- د امنيتي تصدۍ د کارکوونکو د تشويقي زېرمې (وجوه) د وېشلو د کړنلارې تصويبول.

۱۲- د هېواد په ولايتونو کې د امنيتي تصدۍ د نمايندګۍ د جوړولو او لغو کولو منظورول.

۱۳- د امنيتي کارکوونکو (ګاردانو) د استثنايي معاشونو د اندازې تصويبول.

۱۴- ددې اساسنامې د (۴۷) مادې د حکم له تعميل څخه د سرغړونې او اهمال په صورت کې د عامل هيئت او د تصدۍ د حسابي کارکوونکو تأديبول.

۱۵- ددې اساسنامې د درېيمې مادې په ټاکلې نېټه د هېواد ملي پوليسو ته د امنيتي تصدۍ د انحلال او د هغې د ټولو دندو او مسئوليتونو د لېږدولو د زمينې برابرول.

۱۰- اتخاذ تصميم در مورد استفاده از ذخاير وجوه مالی تصدی امنيتی با نظر داشت احکام قانون.

۱۱- تصويب طرزالعمل توزيع ذخيره (وجوه) تشويقی کارکنان تصدی امنيتی.

۱۲- منظوری ايجاد و الغای نمايندگی تصدی امنيتی در ولايات کشور.

۱۳- تصويب اندازهٔ معاشات استثنائی کارکنان امنيتی (گارد ها ).

۱۴- تأديب هيئت عامل وکارکنان حسابی تصدی درصورت تخلف واهمال از تعميل حکم مادهٔ (۴۷) اين اساسنامه.

۱۵- فراهم آوری زمينه انحلال تصدی امنيتی وانتقال کليه وظايف و مسئوليت های آن به پوليس ملی کشور به تاريخ معينهٔ مادهٔ سوم اين اساسنامه.

## د عالي شوري غونډې

**شپږويشتمه ماده:**

(۱) د عالي شوري غونډې په عـــادي او فوق العاده توګه، په لاندې ډول داېرېږي:

۱- عادي غونډې لږترلږهٔ په هرو دريـــو مياشتوکې يوځل.

۲- فوق العاده غونډې د امنيتي تصدۍ د عالي شوري درئيس يا مرستيال د غوښتنې له امله يا د عامل هيئـــت د رئـــيس پـــه وړانديز او د امنيتي تصدۍ د عالي شوري د رئيس په منظورۍ.

(۲) د عالي شوري غونډې د رئيس تـــر رياست لاندې او د هغه په غياب کـــې د مرستيال تر رياست لاندې جوړېږي.

(۳) د عالي شوري تصميمونه د رأيو پـــه اکثريت سره نيول کېږي.

(۴) د عالي شوري تصويبونه په ځانګړي کتاب کې درجېږي.

## د تصدۍ اجرائيوي مرجع

**اووه ويشتمه ماده:**

عامل هيئت د تصدۍ اجرائيوي مرجع ده او له رئيس، مرستيال يا مرستيالانوڅخه

## جلسات شوراى عالى

**مادهٔ بيست وششم:**

(۱)جلسات شوراى عالى بصورت عادى و فوق العاده قرار آتى داير مى گردد:

۱- جلسات عادى حد اقل در هرسه ماه يک مرتبه .

۲- جلسات فوق العاده به اثر تقاضاى رئيس يامعاون شوراى عـــالى تـــصدى امنيتى يابه پيشنهاد رئيس هيئت عامـــل ومنظورى رئيس شوراى عالى تـــصدى امنيتى.

(۲) جلسات شوراى عالى تحت رياست رئيس و در غياب وى تحت رياســـت معاون شوراى عالى داير مى گردد.

(۳) تصاميم شوراى عالى به اكثريـــت آراء اتخاذ مى گردد.

(۴) تصاويب شوراى عالى در كتـــاب مخصوص درج مى گردد.

## مرجع اجرائيوى تصدى

**مادهٔ بيست وهفتم:**

هيئت عامل مرجع اجرائيوى تصدى بوده و متشكل ازرئيس، معاون يا معـــاونين

تشکیل شوې ده.

## د عامل هیئت د رئیس مسئولیتونه

**اته ویشتمه ماده:**

د عامل هیئت رئیس، د تصدۍ اجرائیوي مسئول دی او د امنیتي تصدۍ د کار او فعالیت، بودجوي ژمنو، د امنیتي تصدۍ په لاس لرلې پانګې او نورو مالي سرچینو څخه د معقولې او ګټورې ګټې اخیستنې، د ربعوارو رپوټونو پر وخت ترتیب او وړاندې کولو او د امنیتي تصدۍ د کلني بېلانس د برابرولو، د مالي دسپلین او د اجرائیوي نورو چارو د پرمخ بیولو په رعایتولو سره، د منظورو شوو پلانونو د تطبیق په ساحه کې، مسئول دی.

## د عامل هیئت دندې او واکونه

**نهه ویشتمه ماده:**

(۱) د عامل هیئت رئیس د لاندې دندو او واکونو لرونکی هم دی:

۱- د امنیتي تصدۍ د اجرائیوي چارو سازماندهي کول.

۲- په دولتي ادارو، مؤسسو او نورو مراجعوکې له امنیتي تصدۍ څخه

می باشد.

## مسئولیت های رئیس هیئت عامل

**مادهٔ بیست وهشتم:**

رئیس هیئت عامل، مسئول اجرائیوی تصدی بوده و در ساحهٔ تطبیق پلان های منظور شده کار و فعالیت تصدی امنیتی، تعهدات بودجوی، استفادهٔ معقول و مثمر از سرمایه و سایر منابع مالی دست داشتهٔ تصدی امنیتی، ترتیب و ارایهٔ به موقع گزارش های ربعوار و تهیهٔ بیلانس سالانهٔ تصدی امنیتی، مراعات دسپلین مالی و پیشبرد سایر امور اجرائیوی مسئول می باشد.

## وظایف وصلاحیت های هیئت عامل

**مادهٔ بیست ونهم:**

(۱) رئیس هیئت عامل دارای وظایف و صلاحیت های ذیل نیز می باشد:

۱- سازماندهی امور اجرائیوی تصدی امنیتی .

۲- نمایندگی از تصدی امنیتی در ادارات و مؤسسات دولتی و سایر

استازيتوب.

۳- د امنيتي تصدۍ د عالي شوري لخوا د سپارل شوو واکونو په حدودوکې د قراردادونو، موافقه ليکونو او د اجناسو، خدمتونو او ساختماني چارو د تدارک لاسليک کول.

۴- د امنيتي کارکوونکو (گاردانو) په شمول، دتقنيني سندونو او اړوندو کړنلارو مطابق، د امنيتي تصدۍ د منسوبينو استخدام، ترفيع، تبديلي، تقاعد او لرې کول.

۵- د شته ظرفيتونو له اعظمي استفادې څخه د امنيتي تصدۍ د کلني کار د پلان او پروگرام ترتيبول، د دولت د کنترولي ارقامو رعايتول چې د کورنيو چارو وزارت لخوا ابلاغيږي او د امنيتي تصدۍ د عالي شوري له تصويب وروسته اړوندو مراجعو ته د هغۀ وړاندې کول.

٦- د امنيتي تصدۍ د مالي پلان او تشکيل ترتيبول او د عالي شوري له تصويب وروسته اړوندو مراجعو ته د هغۀ استول.

۷- امنيتي تصدۍ ته د بانکي حساب

مراجع .

۳- امضاء قرارداد ها و موافقتنامه ها و تدارک اجناس، خدمات و امور ساختمانی در حدود صلاحيت های تفويض شده از طرف شورای عالی تصدی امنيتی.

۴- استخدام، ترفيع، تبديل، تقاعد و سبکدوشی منسوبين تصدی امنيتی بشمول کارکنان امنيتی (گاردها) مطابق اسناد تقنينی و طرزالعمل های مربوط.

۵- ترتيب پلان وپروگرام کار سالانۀ تصدی امنيتی با استفادۀ اعظمی از ظرفيت های موجود، رعايت ارقام کنترولی دولت که از طريق وزارت امور داخله ابلاغ گرديده و ارايۀ آن به مراجع ذيربط بعد از تصويب شورای عالی تصدی امنيتی .

٦- ترتيب پلان مالی و تشکيل تصدی امنيتی و ارسال آن به مراجع ذيربط بعد از تصويب شورای عالی.

۷- افتتاح حساب بانکی برای تصدی

پرانیستل.

۸- د واک په حدودوکې د امنیتي تصدۍ کارکوونکو ته د لازمو لارښوونو صادرول.

۹- د رأیې له حق پرته د امنیتي تصدۍ د عالي شوري په غونډوکې ګډون.

۱۰- د نورو هغو دندو او واکونو اعمالول چې د عالي شوري لخوا هغۀ ته محولیږي.

(۲) د عامل هیئت د رئیس په غیاب کې، د هغۀ دندې او واکونه د هغه د مرستیال په واسطه چې د عامل هیئت د رئیس لخوا ورته واک سپارل کیږي، اعمالیږي.

(۳) د عامل هیئت د مرستیال یا مرستیالانو دندې او د واکونو حدود د عامل هیئت د رئیس لخوا ټاکل کیږي.

(۴) د امنیتي تصدۍ حسابي مرستیال (سرمحاسب) خپلې دندې د سرمحاسبینو د مقررې مطابق اجراء کوي.

امنیتی .

۸- اصدار هدایات لازم به کارکنان تصدی امنیتی در حدود صلاحیت.

۹- اشتراک درجلسات شورای عالی تصدی امنیتی بدون حق رأی.

۱۰- اعمال سایر وظایف و صلاحیت های که از طرف شورای عالی به آن محول می گردد .

(۲) در غیاب رئیس هیئت عامل، وظایف وصلاحیت های وی توسط معاونی که از طرف رئیس هیئت عامل به وی تفویض صلاحیت می شود، اعمال می گردد.

(۳) وظایف و حدود صلاحیت های معاون یا معاونین هیئت عامل از طرف رئیس هیئت عامل تعیین می شود.

(۴) معاون حسابی (سرمحاسب) تصدی امنیتی وظایف خود را مطابق مقررۀ سرمحاسبین اجراء می نماید.

## د مرستيالانو او کارکوونکو مسئوليت

**دېرشمه ماده:**

د امنيتي تصدۍ مرستيال يا مرستيالان، سرمحاسب او نورکارکوونکي د خپل کار په ساحه کې د عامل هيئت د رئيس په وړاندې مسئول دي.

## د پلان ترتيب او تصويب

**يو دېرشمه ماده:**

(۱) عامل هيئت مکلف دی د هېواد د اقتصادي او ټولنيزو پرمختيايي پلانونو د بنسټيزو اړخونو له په پام کې نيولو سره، خپل پرمختيايي پلانونه او کلنی مالي پلان د تصويب لپاره عالي شورى ته وړاندې کړي.

(۲) عامل هيئت مکلف دی د پلان د طرحې په وخت کې، خدمتونو د وړاندې کولو د ودې له امکاناتوڅخه اعظمي ګټه اخيستنه او د خدمتونو د وړاندې کولو د تمامې شوې بيې ټيټوالی په پام کې ونيسي.

(۳) پدې اړه کنترولي ارقام د نوي مالي کال له پيل څخه درې مياشتې دمخه د کورنيو چارو د وزارت په واسطه امنيتي

## مسئوليت معاونين وكاركنان

**مادۀ سی ام:**

معاون يا معاونين ، سر محاسب و ساير كاركنان تصدی امنيتی در ساحۀ كار خود نزد رئيس هيئت عامل مسئول می باشند.

## ترتيب وتصويب پلان

**مادۀ سی ويكم:**

(۱) هيئت عامل مكلف است با نظر داشت جهات اساسی پلان های انكشاف اقتصادی و اجتماعی كشور، پلان های انكشافی و پلان مالی سالانۀ خويش را جهت تصويب به شورای عالی ارائه نمايد.

(۲) هيئت عامل مكلف است هنگام طرح پلان، استفادۀ اعظمی از امكانات رشد عرضۀ خدمات وكاهش قيمت تمام شد عرضۀ خدمات را درنظر بگيرد .

(۳) ارقام كنترولی در اين رابطه سه ماه قبل از شروع سال مالی جديد توسط وزارت امور داخله به تصدی

تصدۍ ته ابلاغېږي. که چېرې عامل هيئت نومورې ارقام غير عملي تشخيص کړي، موضوع د مستندو دلايلو په يادولو سره، د نوي مالي کال له پيل څخه دوه مياشتې دمخه د کورنيو چارو وزارت ته خبر ورکوي.

## د پلان تطبيق

**دوه دېرشمه ماده:**

(۱) منظور شوي پلانونه د عامل هيئت په واسطه تطبيقېږي. که چېرې تثبيت شوي شاخصونه د تطبيق وړ نه وي، موضوع له موجهو او مستندو دلايلو سره، د ماليې او کورنيو چارو وزارتونو ته خبر ورکوي.

(۲) که چېرې د منظورو شوو پلانونو د نه تطبيق د عواملو په اړه د امنيتي تصدۍ دلايل، د کورنيو چارو وزارت يا د ماليې وزارت قناعت ترلاسه نکړي، عالي شوري د عامل هيئت پر ترکيب کُلاً يا قسماً بياکتنه کوي.

امنيتی ابلاغ می شود. هرگاه هيئت عامل ارقام متذکره را غير عملی تشخيص دهد ، موضوع را با ذکر دلايل مستند ، دوماه قبل از شروع سال مالی جديد به وزارت امور داخله اطلاع می دهد.

## تطبيق پلان

**مادۀ سی ودوم:**

(۱) پلان های منظور شده توسط هيئت عامل تطبيق می گردد. هرگاه شاخص های تثبيت شده قابل تطبيق نباشد، موضوع را با دلايل موجه و مستند به وزارت های ماليه و امور داخله اطلاع می دهند.

(۲) هرگاه دلايل تصدی امنيتی در رابطه با عوامل عدم تطبيق پلان های منظور شده، قناعت وزارت امور داخله يا وزارت ماليه را فراهم نکند، شورای عالی در ترکيب هيئت عامل کلاً يا قسماً تجديد نظر می نمايد.

### د ګټې اخيستنې اغېزمنتوب

**دري دېرشمه ماده:**

عامل هيئت، د بنسټيزو جايدادونو روان او اساسي ترميم، د تجهيزاتو او وسايطو عصري کول، د تخنيکي او مؤلديت د سطحې لوړول او له ودانيو او تأسيساتو څخه معقوله ګټه اخيستنه تأمينوي.

### د تدارکاتو سازماندهي کول

**څلوردېرشمه ماده:**

عامل هيئت، د موادو او خپلو نورو احتياجاتو د پروخت تدارک د منظور شوي مالي پلان مطابق، سازماندهي کوي.

### د مازادو (اضافه) موادو او جايدادونو پلورل

**پنځه دېرشمه ماده:**

عامل هيئت واک لري، خپلې منقولې شتمنۍ او مازاد او غير اړين جايدادونه د عالي شورې په تجويز د قانون مطابق وپلوري. د موادو او اجناسو د پېر له مدرکه ترلاسه شوی مبلغ امنيتي تصدۍ ته په لاس ورځي او هغه وجوه چې د

### مؤثريت بهره برداری

**مادۀ سی وسوم:**

هيئت عامل ،ترميم جاری و اساسی جايداد های اساسی، مدرن ساختن تجهيزات و وسايط، بالابردن سطح تخنيکی و مؤلديت و بهره برداری معقول از تعميرات و تأسيسات را تأمين می نمايد .

### سازماندهی تدارکات

**مادۀ سی وچهارم:**

هيئت عامل، تدارک به موقع مواد وساير احتياجات خود را مطابق پلان مالی منظور شده سازمان دهی می نمايد.

### فروش مواد وجايداد مازاد

**مادۀ سی وپنجم:**

هيئت عامل صلاحيت دارد دارائی منقول وجايداد مازاد وغير ضروری خود را به تجويز شورای عالی مطابق قانون بفروش برساند. مبلغ حاصله از مدرک فروش مواد واجناس در دسترس تصدی امنيتی قرار می گيرد و وجوهی که ازمدرک

بنستیزو جایدادونو د پېر له مدرکه ترلاسه کېږي د امنیتي تصدۍ د پراختیایي مالي وجوهو زېرمې ته لېږدول کېږي.

**سپما**

**شپږ دېرشمه ماده:**

عامل هیئت، په امنیتي تصدۍ پورې اړوند په ټولو لګښتونوکې دسپما او له وسایطو، تجهیزاتو او نورو شتمنیوڅخه د ګټورې ګټې اخیستنې په منظور، لازم تدبیرونه نیسي.

**له دوراني پانګې څخه ګټه اخیستنه**

**اووه دېرشمه ماده:**

عامل هیئت، د اکثرحد ګټې د ترلاسه کولو په مقصد، له دوراني پانګې او نورو هغو وجوهو څخه چې د منظور شوي پلان پربنسټ د امنیتي تصدۍ د فعالیت د پرمخ بیولو لپاره هغهٔ ته ورکول شوي، ګټه اخلي.

فروش جایداد های اساسی بدست می آید به ذخیرهٔ وجوه مالی توسعوی تصدی امنیتی انتقال میابد.

**صرفه جوئی**

**مادهٔ سی و ششم:**

هیئت عامل به منظور صرفه جوئی در تمام مصارف مربوط به تصدی امنیتی و استفادهٔ مثمر از وسایط، تجهیزات و سایر دارائی ها تدابیر لازم را اتخاذ می نماید.

**استفاده از سرمایهٔ دورانی**

**مادهٔ سی و هفتم:**

هیئت عامل به مقصد دریافت حداکثر مفاد، از سرمایهٔ دورانی و سایر وجوهی که جهت پیشبرد فعالیت تصدی امنیتی به اساس پلان منظور شده به دسترس آن گذاشته شده است، استفاده به عمل می آورد.

## د نغدي معاملاتو منع

**اته دېرشمه ماده:**

(۱) عامل هيئت،عمدتاً د امنيتي تـــصدۍ معاملات په غير نغدي ډول ترسره کوي.

(۲) عامل هيئت کولای شي د خپلې اړتيا د رفع کولو لپاره د کيسې د مقررې پــه رعايتولو سره محدود وجوه، د امنيتـــي تصدۍ په کيسه کې وساتي.

## پور اخيستنه

**نهه دېرشمه ماده:**

عامل هيئت واک لري، د امنيتي تصدۍ د عالي شوري له منظورۍ وروسته لانـــدې پورونه له بانک څخه ترلاسه کړي:

۱- د پولي موٌقتو اړتياوو د رفع کولـــو لپاره قصير المدت او متوسط المدت پور.

۲- په پلان کې د اټکل شوو پانګو اچونو لپاره طويل المدت پور.

## د جايدادونو موجودي

**څلوېښتمه ماده:**

عامل هيئت، دخپلو جايدادونو، پـــولي وجوهو اوجاري معاملا تو موجـــودي د اړوندو تقنيني سندونو مطـــابق، ترســره

## منع معاملات نقدی

**مادهٔ سی وهشتم:**

(۱) هيئت عامل عمدتاً معاملات تصدی امنيتی را طور غير نقدی انجام می دهد.

(۲) هيئت عامل می تواند جهت رفـــع ضرورت خويش وجـــوه محـــدودی را بارعايت مقررهٔ کسه،در کسهٔ تـــصدی امنيتی نگهداری نمايد.

## قرضه گيری

**مادهٔ سی ونهم:**

هيئت عامل صـــلاحيت دارد بعـــد از منظوری شورای عالی تـــصدی امنيتـــی قرضه های آتی را از بانک اخذ نمايد:

۱- قرضهٔ قصير المدت ومتوسط المدت جهت رفع ضرورت های مؤقت پولی.

۲- قرضهٔ طويل المدت جهت ســـرمايه گذاری های پيشبينی شده درپلان.

## موجودی جايداد ها

**مادهٔ چهلم:**

هيئت عامل، موجودی جايـــداد هـــا، وجوه پولی ومعاملات جاری خـــود را طبق اســـناد تقنينـــی مربـــوط انجام

کوي.

## د مهارتونو د سطحې لوړول

**یوڅلویښتمه ماده:**

عامل هیئت، د کادرونو زده کړه ییــزې چارې دهغو د مهارتونو د لوړولو په غرض دکار په ځای کې اویا کورنیو او بهرنیو ښوونیزو نورو قطعاتو او مؤسسو ته دهغو دلیږلو له لارې، سازماندهي کوي.

## ایمني تدبیرونه

**دوه څلویښتمه ماده:**

عامل هیئت، د اړوندو کارکوونکو د کار د شرایطو د ښه والي لپاره تدبیرونه نیسي او ایمني تخنیک او د حفــظ الــصحې مقررات رعایتوي.

## حقوق او امتیازات

**دري څلویښتمه ماده:**

(۱) عامل هیئت کــولای شــي د ښــو خدمتونو د وړاندې کولــو او د مــاهرو امنیتي کارکوونکو(ګاردانو) د جذبولو په منظور، استثنایي معاشات او نور امتیازات هغو ته د امنیتي تصدۍ د عالي شوري له تصویب وروسته ورکړي.

می دهد.

## ارتقای سطح مهارت ها

**مادۀ چهل ویکم:**

هیئت عامل، امور تربیوی کادر ها را در محل کار ویا از طریق اعزام آنهــا بــه سایر قطعات ومؤسسات تعلیمی داخلی و خارجی غرض بالا بردن سطح مهــارت های آنها سازماندهی می نماید.

## تدابیر ایمنی

**مادۀ چهل ودوم:**

هیئت عامل، تدابیری را جهت بهبــود شرایط کار کارکنان مربوط اتخــاذ و مقررات تخنیک ایمنی وحفظ الصحه را رعایت می نماید.

## حقوق وامتیازات

**مادۀ چهل وسوم:**

(۱) هیئت عامل می تواند بــه منظــور عرضۀ خدمات بهتر وجذب کارکنــان ماهر امنیتی (گارد ها)، معاشات استثنائی و سایر امتیازات را برای آنها بعــد از تصویب شورای عالی تــصدی امنیتــی بپردازد.

(۲) دامنيتي تصدۍ د افسرانو، ساتنمنانو او دملکي خدمتونو د نوروکارکوونکو حقوق او امتيازات، د افسرانو، ساتنمنانو او دملکي خدمتونو په کارکوونکو پورې د اړوندو تقنيني سندونو د حکمونو تابع دي.

**د ورته مؤسسو له تجربو څخه ګټه اخيستنه**

**څلورڅلويښتمه ماده:**

عامل هيئت د خدمتونو د وړاندې کولو او نوښتونو په پرمختيا او پراختيا کې او په امنيتي تصدۍ پورې د اړوندو چارو په ښه کولوکې دورته خدمتونو د وړاندې کوونکو مؤسسو له تجربو څخه ګټه اخلي.

**د سلاح کوټونو پلټنه**

**پنځه څلويښتمه ماده:**

د امنيتي تصدۍ وسله، مهمات او سلاح کوټونه په هرو دوو مياشتوکې له مسلکي نظره د مسئولينو لخوا کنترول او پلټل کېږي، د سرغړونو د ليدلو په صورت کې له اړوندو مسئولينوڅخه قانوني پوښتنه

(۲) حقوق وامتيازات افسران، ساتنمنان وساير کارکنان خدمات ملکی تصدی امنيتی تابع احکام اسناد تقنينی مربوط افسران، ساتنمنان وکار کنان خدمات ملکی می باشد.

**استفاده از تجارب مؤسسات مشابه**

**مادۀ چهل وچهارم:**

هيئت عامل در انکشاف وتوسعۀ عرضۀ خدمات و ابتکارات وبهتر ساختن امور مربوط به تصدی امنيتی از تجارب مؤسسات عرضه کنندۀ خدمات مشابه استفاده به عمل می آورد.

**تفتيش سلاح کوت ها**

**مادۀ چهل و پنجم:**

سلاح، مهمات و سلاح کوت های تصدی امنيتی در هر دوماه از طرف مسئولين از نظر مسلکی کنترول و تفتيش گرديده، در صورت مشاهدۀ تخلفات از مسئولين مربوطه بازپرس

صورت مومي.

**د استخدام منع**

**شپږڅلوېښتمه ماده:**

(۱) په امنيتي تصدۍ کې د ملي دفاع وزارت، د کورنيو چارو وزارت، د ملي امنيت د عمومي رياست او د نظامي تشيکلاتو لرونکو نورو وزارتونو او ادارو منسوبين، دقراردادي کارکوونکي (ګارد) په توګه مقررېدی او استخدامېدی نشي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي منسوبين چې په امنيتي تصدۍ کې توظيفېږي، د هغې ادارې چې هغې ته منسوب دي د اړوندو قوانينو، مقرراتو او لوايحو تابع ګڼل کېږي

## څلورم فصل

## متفرقه حکمونه

**تأديب**

**اووه څلوېښتمه ماده:**

که چېرې دامنيتي تصدۍ د فعاليت رپوټ او بېلانس په ټاکلي وخت کې د هغو مراجعو ته وړاندې نشي، عامل هيئت او حسابي کارکوونکي له هڅوونکو

قانونی صورت می گیرد.

**منع استخدام**

**مادۀ چهل وششم:**

(۱) منسوبین برحال وزارت دفاع ملی، وزارت اموردا‌خله، ریاست عمومی امنیت ملی و سایر وزارت ها و ادارات دارای تشکیلات نظامی درتصدی امنیتی به حیث کارکن قرار دادی (گارد) مقرر واستخدام شده نمی توانند.

(۲) منسوبین مندرج فقرۀ (۱) این ماده که در تصدی امنیتی توظیف می گردند، تابع قوانین، مقررات ولوایح مربوط اداره ایکه به آن منسوب اند، شمرده می شوند.

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

**تأدیب**

**مادۀ چهل وهفتم:**

هرگاه گزارش فعالیت و بیلانس تصدی امنیتی به وقت معینه به مراجع آن ارائه نگردد، هیئت عامل و کارکنان حسابی از امتیازات تشویقی محروم و

امتیازونو څخه محروم او د قانون د حکمونو مطابق، تأدیبیږي.

### د امنیتي کارکوونکو ذاتي چارې

اته څلویښتمه ماده:

د امنیتي تصدۍ د امنیتي کارکوونکو (ګاردانو) د استخدام چارې،د دندو او مکلفیتونو حدود، تأدیب او نورې اړوندې چارې د جلا کړنلارې مطابق چې د عالي شورې لخوا تصویبیږي، صورت مومي.

### د امنیتي کارکوونکو یونیفورم

نهه څلویښتمه ماده:

د امنیتي تصدۍ امنیتي کارکوونکي (ګاردان) د مخصوص یونیفورم لرونکي دي چې شکل او له هغې څخه د ګټې اخیستنې ډول يې د جلا لایحې په واسطه د کورنیو چارو وزارت لخوا، ترتیبیږي.

### د متخصصینو استخدام

پنځوسمه ماده:

(۱)عامل هیئت کولای شي د اړوندو منسوبینو د مسلکي او کاري ظرفیتونو او معیاري ښوونې او روزنې د لوړولو په

مطابق احکام قانون تأدیب می گردند.

### امور ذاتی کارکنان امنیتی

مادهٔ چهل وهشتم:

امور استخدام، حدود وظایف و مکلفیت ها، تأدیب وسایر امور مربوط به کارکنان امنیتی (گاردهای) تصدی امنیتی طبق طرز العمل جداگانه که از طرف شورای عالی تصویب می شود، صورت می گیرد.

### یونیفورم کارکنان امنیتی

مادهٔ چهل و نهم:

کارکنان امنیتی (گاردهای) تصدی امنیتی دارای یونیفورم مخصوص می باشند که شکل وطرز استفادهٔ آن طی لایحهٔ جداگانه از طرف وزارت امور داخله ترتیب می شود.

### استخدام متخصصین

مادهٔ پنجاهم:

(۱) هیئت عامل می تواند به منظور ارتقای ظرفیت مسلکی وکاری وتعلیم وتربیهٔ معیاری منسوبین مربوط

منظور، په اړوندو برخوکې د متخصصینو (سلاکارانو) په توګه کورني او بهرني اتباع د امنيتي تصدۍ د عالي شوري له موافقې وروسته او په افغانستان کې د بهرنیو اتباعو د مسافرت او میشتېدو د قانون په رعایتولو سره، استخدام کړي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو متخصصینو د حق الزحمې اندازه د امنيتي تصدۍ د عالي شوري لخوا ټاکل کېږي.

## له وخت څخه دمخه انحلال

**یو پنځوسمه ماده:**

که چېرې د امنيتي تصدۍ عالي شوري، تشخيص کړي چې د پولیسو ځواکونه د امنيتي تصدۍ د امنيتي خدمتونو د ټولو دندو په سرته رسولو قادر دي، کولای شي د امنيتي تصدۍ انحلال د ۱۳۹۲ کال د وري د میاشتي له لومړۍ نېټې څخه دمخه د وزیرانو شوري ته پیشنهاد کړي او د وزیرانو شوري لخوا د امنيتي تصدۍ د انحلال د تصویب په صورت کې، د هغې شتمنۍ تصفیه او د هغې د نغدي

اتباع داخلی و خارجی را بحیث متخصصین (مشاورین) در بخش های مربوطه بعد از موافقهٔ شورای عالی تصدی امنیتی و رعایت قانون مسافرت واقامت اتباع خارجی در افغانستان، استخدام نماید.

(۲) اندازهٔ حق الزحمهٔ متخصصین مندرج فقرهٔ (۱) این ماده از طرف شورای عالی تصدی امنیتی تعیین می گردد.

## انحلال قبل از وقت

**مادهٔ پنجاه ویکم:**

هرگاه شورای عالی تصدی امنیتی، تشخیص نماید که نیروهای پولیس قادر به انجام تمام وظایف خدمات امنیتی تصدی امنیتی گردیده اند می توانند قبل ازتاریخ اول حمل سال ۱۳۹۲ انحلال تصدی امنیتی را به شورای وزیران پیشنهاد نماید و در صورت تصویب انحلال تصدی امنیتی از جانب شورای وزیران، دارائی های آن تصفیه و بعد از ادای

وجوهو د پوروونو له ورکړې وروسته د دولت د وارداتو حساب ته انتقال او وسله، مهمات، تجهيزات او ترانسپورتي وسايط يې د کورنيو چارو وزارت ته تسليمېږي.

## د پوليسو د ځواک زياتوالی

**دوه پنځوسمه ماده:**

د تصدۍ عالي شوري دې هڅه وکړي څو هرڅومره ژر د قراردادي کارکوونکو (ګاردانو) ځای د پوليسو ځواک ته وسپاري او د امنيتي تصدۍ د چټک انحلال زمينه برابره کړي.

## مهر

**دري پنځوسمه ماده:**

امنيتي تصدۍ د مخصوص مهر لرونکې ده.

## د نافذېدو نېټه

**څلورپنځوسمه ماده:**

دغه اساسنامه د تصويب له نېټې څخه د ۱۳۹۲هـ. ش کال د وري د مياشتي تر لومړۍ نېټې پورې نافذه ده او په رسمي جريده کې دې خپره شي.

ديون وجوه نقدی آن به حساب واردات دولت انتقال و سلاح، مهمات، تجهيزات و وسايط ترانسپورتی آن به وزارت امور داخله تسليم داده می شود.

## افزايش نيروی پوليس

**مادۀ پنجاه ودوم:**

شورای عالی تصدی سعی بعمل آورد تا هرچه زودتر جای کارکنان قراردادی (گاردها) را به نيروی پوليس تفويض و زمينۀ انحلال سريع تصدی امنيتی را فراهم سازد.

## مهر

**مادۀ پنجاه وسوم:**

تصدی امنيتی دارای مهر مخصوص می باشد.

## تاريخ انفاذ

**مادۀ پنجاه وچهارم:**

اين اساسنامه از تاريخ تصويب الی اول حمل سال۱۳۹۲ هـ.ش نافذ بوده و در جريدۀ رسمی نشر گردد.

# اشتراک سالانه :

در مرکز وولایات : (۹۰۰) افغـــــانی

برای مامورین دولت : با (۲۵) فیصد تخفیف

برای متعلمـــین ومحصـــلین با ارائه تصدیق ،نصف قیمت

برای کتاب فروشی هابا ۱۰ فیصد تخفیف ازقیمت روی

جلدخارج از کشور : (۲۰۰) دالر امریکائی .

ISLAMIC REPUBLIC
OF
AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL

# GAZETTE

- Amendment of Paragraph 7 of Article 2 of law on Management of Financial Affairs and Public Expenses
- Charter of Security Enterprise

**Date: 30 th NOVEMBER .2011**

**ISSUE NO :(1065)**